مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

رحمت ځواکمن

۲۰۲/۰۹/۰۴

# هغه فلزات چې د زبرځواکو سترګې ورته برندې دي

په دې ورځو کې په افغانستان کې ځمکنيو خامو موادو او کاني سرچينو د هيواد دننه او بهر خبرې تودې کړې دي. دا موضوع يوازې اقتصادي اړخ نلري او له لسګونو کلونو را ديخوا يي افغانستان د سياسي کړکيچ او د زبرځواکو له سيالۍ سره مخ کړې دی.

مخکې له دې چې د افغانستان پر ځمکنيو خامو زيرمو او کانونو پر يوه بله ليکنه کې خبرې وکړم، راځئ له تاسی سره د هالنډ د يوې مشهورې وګړنی ورځپاڼي( فولکس کرانت، de Volkskrant) د يوې تحليلي مقالي ځنې مهم ټکي شريک کړم:

دا مقاله (د راتلونکو فلزاتو لپاره چټله مبارزه) نوميږي. په دې ليکنه کې په نړۍ کې د خامو موادو د تر لاسه کولو پر نړيواله سيالي يو تحليلي او علمي عمومي بحث شوی دی. خو په ځانګړې توګه په کې د هغو فلزاتو پر ارزښت په زړه پوري تحليل او ارزونه وړاندې شوی ده، کوم چې په راتلونکې کې ورته زبرځواکو سترګې برندې نيولی دي او د لټون او ترلاسه کولو لپاره يي له هرې پلمي او وسيلې کار اخلي.

په نوموړې ليکنه کې، د دې نړيوالي سوداګريزې لوبې ستر لوبغاړي چين، د امريکې متحده آيالات، روسيه، اروپا او افريقا نومول شوی دي.

د ورځپاڼي په دې اورده تحليلي مقاله کې کوښښ شوی چې، په يويشتمه پيړي کې ځمکنيو خامو توکيو ته لاسرسي راوسپړي. پوښتني يې مطرح کړي چې دا لوبه به د دوی تر منځ خومره صادقانه وي، څوک به يې ګټونکې او څوک به يې بايلونکې وي؟

دا پوښتني به د وخت په راتلونکو لسيزو کې پر داسی نړيواله سوداګرۍ را څرخي چې پايله به يې نړيوال شنه او تکنالوژيک انقلابونه وي.

پرمختللي نړۍ په ځانګړې توګه لويديځ هيوادونه په دی کار کوي چې تر 2050 کاله هوا ته د کاربن دای اکسايد د خوشي کولو کچه صفر ته راټيټه کړي.

همدا اوس په ټوله اروپا، له دې جملې په هالنډ يا نيدرلند کې د چاپيريالي اغيزو د مخنيوي لپاره پر دی سخت کار روان دی چې د ژوند ټول وسايل او سستمونه پاکې انرژۍ ته واړوي، پر فوسيلي انرژي په ځانګړې توګه پر ګاز خپله تکيه را کمه کړي.

د سترګو راتلونکې ليد پر دی ورټول دی چې پاکه انرژي له نه تماميدونکو سرچينو لکه باد، لمر او اوبو ترلاسه شي. د بادي ژرندو، لمريزو درو يا تختو او داسی نورو پاکو انرژي ترلاسه کوونکو وسيلو کار چټک شوی او زيات شوی دی. همدارنګه پر برېښنا د چلوونکو ګاډو يا موټرو شمير ورځ تر بلې زياتيږي.

خو د برېښنايي موټرو د چارجولو بطرۍ او نور ټول پورټني وسايل، د ځيرکو تليفونو او د نورو کمپيوټري تکنالوجيکي وسيالو په شمول ځنو غوره او نادرو کاني توکو ته اړتيا لري.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

هغه هیوادونه چې غواړي د دی نویو پرمختګونو او بدلونونو سرلاري شي، باید د نیودیمیم، کوبالت او لیتیم خام مواد او کاني توکي په لاس کې ولري.

نو ځکه د دي حیاتي فلزاتو د ترلاسه کولو لپاره  سخته مبارزه روانه ده.

د دی فلزاتو دیرش سلنه په افریقا کې ده، افریقا  لا وار دمخه د لویدیځوالو لپاره یوه لنګه غوا وه. ښکاره ده چې د ګټو د ترلاسه کولو دا لوبه به چې،   اوبه خړې کړه او کبان ونیسه، په یوه ډول نه یو ډول دوام مومي.

په 2018 کال کې د کوبالت (Cobalt( Co

د لس زره ملیاردو ډالرو په ارزښت غټ

صادروونکي هیوادونه د کانګو دموکراتیک جمهوریت، چین او فنلنډ و او غټ واردوونکي هیوادونه یې چین، جنوبی کوریا او د جاپان هیوادونه وو.

په بله لیکنه کې به همدا موضوع د لعلونو تر خزاني او د اسیا تر زړه افغانستانه وغزوو.

نور بیا

پوهنمل دکتوراندوس رحمت ځواکمن

هالنډ/ ۲- ۹- ۲۰۲۳


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ